


# د انسان زهر

سعد الله جان برق

خبره د چشمو دين د سپي چيچلو نه شروع شوې وه، سپې چشمو دين نهٔ ؤ چيچلے بلکې سپي چشمو دين چيچلے ؤ. حالانکې د اخبار والا ؤ د حسابه دا څهٔ خبره نهٔ ؤ. البته کهٔ چشمو دين سپے چيچلے وے نو بيا ترې نه خبر جوړېدو، اولنے سوال خو دا راپېدا شو چې سپے لېونے ؤ او کهٔ نهٔ. نو د دې په باره کښې خو د چرګو ملا صېب فتويٰ ورکړه چې سپے يقيناً لېونے ؤ، ګني کهٔ لېونے نهٔ وے نو چشمو دين به ئې ولې چيچلو. په روغه نمنه خو د تور مار هم دومره جرات نهٔ شي کېدلے چې دومره غلطه چيچنه وکړي، بلکې کهٔ لړم له دې د ازمرې زړهٔ ورکړو يا ازمري له دې د لړم لشه ورکړه نو هم به دواړه ترې نه مخه وکړي.

ما ورته وئيل لړم خو به ئې څکه چيچي چې وائي د لړم سترګې نهٔ وي او بيا په لکۍ کښې خو ئې بالکل سترګې نهٔ وي، جواب هغهٔ سره تيار ؤ وئيل چې سپړمې خو ئې وي کنه او د چشمو دين بوئې دومره خطرناک دے چې دولس مړهٔ سپي، په شپږو ګنده نالو کښې شپږ مياشتې پراتهٔ وي نو دومره خراب بوئې به ئې نهٔ وي لکه څومره چې د چشمو دين دے. کهٔ يقين دې نهٔ وي نو څه نر شه د دهٔ جُرابې يا څپلې پوزې ته نزدې کړه، دې کښې ما څکه څهٔ نهٔ شول وئيلے چې "موذې را موذې شناسد" خو چې تپوس له ئې تللو نو ما ورته ووې چې مولانا دلته خبر دے خو هلته څهٔ اپلتې ونهٔ وائي وعده ئې راسره وکړه خو ماته پته وه چې د هغهٔ په کتاب کښې وعده او توبه کيږي د ماتولو دپاره. تپوس خو ئې وکړو چرګو ملا ورته سورت يٰسين هم ووې ما ته په دې کښې هم د هغهٔ بدنيتي ښکاره شوه چې ګوري کهٔ د سورت يٰسين د برکته په دهٔ هم د ځنکدن ساعت راشي، بيا ئې ورو غوندې چشمو دين نه تپوس وکړو وئيل دا سپے د چا ؤ؟ چشمو دين وئيل يره ما ته پته نشته خو اواره راته ښکارېدو، چرګو ملا زر خان خفه غوندې کړو، وئيل الله دې ئې مل شي بې زبانه ځناور دے، ما ورته وئيل ولې په سپي څهٔ چل کيږي، وئيل ئې کهٔ مالک ئې معلوم وے خو ما به ورته وئيلي وو چې هسپتال ته ئې بوځه او اتويشت ستنې ورته ووهه، خو خدائے خبر هغه

بې چاره به چې اوس کوم ځائے د بې کسۍ په حالت کښې مړ شي. زۀ پوهه شوم خو دا ښه ده چې د چشمو دين دغه وخت کښې سترګې ورغلې وې، ځکه چې ډاکټر امروت ورله د خپل روايت مطابق پنځۀ ستنې وهلې وې، تپوس مې ترې وکړو چې ستنې خو ځوارلس وهلے شي او تۀ اتويشت يادوې، وئيل ځوارلس خو صرف د هغۀ د لېونتوب شوې، ځوارلس به ورله د دې دپاره هم وهل غواړي چې چشمو دين ئې چيچلے دے.

ډېر خلق به شايد چې دا ونۀ مني چې د ځينې انسانانو زهر د سپي نه بلکې لېوني سپي نه ډېر خطرناک وي. سمندر راته قيصه کوله سمندر زما يو تربور سره نوکر دے، مېښې ورله ساتي خدائے خبر د کوم وطن دے خو قابل دومره دے چې کله کله مرور شي او وائي زۀ ځمه نو نائيک ورته وائي پاڅه دا مېښې دې پرانزه او چې چرته ورکېږې هلته ورک شه، سمندر غريب بيا پاتې شي چې زۀ به اوس دا مېښې کوم ځائے د ځان سره ګرځوم، سمندر ډېره موده په دې طمع ؤ چې نائيک به راله وادۀ وکړي او نائيک ورته وئيلي هم وو چې کۀ خبر وي خوابښې دې خدائے لويه کړه او وادۀ شوه نو لور به ئې تا له کوم، د سمندر د تپوس په جواب کښې ئې نائيک وئيلي وو چې اوس له خبره په دوېم کال کښې ئې قدم کېښودو، سمندر بيا هم په طمع ؤ چې څه کۀ خبر وي خوابښې به مې د خبره پېغله شي او د دې غرض دپاره به ئې په دېوال هر کال يوه يوه کرښه هم راښکله خو چې شپاړس کرښې ئې پوره کړې نو نائيک ئې ورله په پټه ورانې کړې، سمندر ډېر خفه شو او بيا ئې د سره کرښې شروع کړې، څۀ موده پس ئې د نائيک د وېنا مطابق هغه خوابښې غريبه مړه شوه نو سمندر د نائيک نه مايوسه شو او دم درود او پير فقير پسې شروع شو، په دې سلسله کښې په يو ګاونډي کلي کښې ئې يو پير هم ونيولو، ډېره زبردسته عقيده ئې پرې راغلې وه.

يوه ورځ ما ته وائي تۀ خبر ئې، پير صېب په خپل خلوت کښې ناست ؤ چې يو مار چرته نه راغلو او پير صيب ئې وچيچلو، مريدانو ئې په مار پسې د وژلو اراده وکړه خو پير صېب په اشاره منع کړل خپلې لاړې ئې د هغۀ د ګوتې نه تاؤ کړې په کومه چې مار چيچلے ؤ، مار روان ؤ، روان ؤ ناګهانه داسې وترټهېدو او مړ شو، ما ورته وئيل سمندره د دې مطلب خو دا شو چې د پير صېب زهر په مار غلبه وو، خيال کوه ځان ترې ساته چرته په تا چک مک ونۀ لګوي.

ډېر خلق به ئې نۀ مني خو دا حقيقت دے چې د ځينې خلقو زهر د مار نه ډېر زيات غلبه وي، بلکې ما خو داسې خلق هم ليدلي دي چې بجلۍ کرنټ ورکړے دے، په دۀ خو څۀ نۀ دي شوي خو بجلي غريبه په مودو مودو بيا نۀ ده راغلې، بلکې يو ډېر اعتباري سړي خو ما ته ان تر دې وئيلي دي چې دا هره ورځ لوډشيډنګ هم ځکه کېږي چې دې بجلي په اسلام اباد کښې يو سياسي ملا له کرنټ ورکړے ؤ.